AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۳/۰۷/۱۰

# په سیمه کې دوزخ

په کورمه کې د سني - شیعه اور بلولو ته لمن وهل کیږي، د کورمي وږیو تږیو، بربندو ناروغانو ته ډوډۍ، اوبه او درمل نه شته، خو د شیعه - سني د جګړې لپاره نوې وسلې پرېمانه دي، ورته ویل شوي چې مرمۍ خومره غواړئ شته. د ترې - منګل لاره پر یو بل وترئ، یو د بل تجارتي کاروانونه ولوټئ.

د کورمې سني - شیعه شخړې دوارو لوریو ته نوي امریکایي ټوپک رسېدلي دي، په دغي بېغږه سونامي کې لاتراوسه ۴۵۰۰ ځوانان وژل شوي دي.

په سهیلي پښتونخوا او بلوڅستان کې د بلوڅو - پښتنو تر منځ مخامختیا او شخړې ته لارې جوړیږي او د دوی د حقونو ترلاسه کولو لپاره د سلکلني ملګرتیا و ورورۍ یووالی یو بل ته په ګواښونو بدلیږي، سبا ته که دا شخړه ونښته هم د سهیلي پښتونخوا وزګارو، نالوستیو او محرومو پښتنو ځوانانو ته به نوي امریکایي - روسي ټوپک په غاړو کې وراچول کیږي، بلوڅ خو هسې هم د تندې و ولږې له لاسه داسې ورځې ته راغلي، چې ژوند یې پر اوږو بوج دی.

په زاهدان کې چاودني و جګړې کیږي، د افغانستان په شمال کې د ځمکو او جایدادونو د زړو شخړو په زخم کې چړې وهل کیږي، وروڼه قومونه یو بل ته د کرکې په سنګرونو کې غورځول کیږي. بدخشان پر سره اور اړول کیږي او پامیرونه تر توپان وراندې چوپتیا ته هېښ دي. دا د ژبړ ښامار او قطبي ایږ د انډیوالی ترونځای دی، دلته به خامخا اور لګول کیږي.

وزیرستانونو ته د «بد» او «ښه» ترهګر د ویش په نامه پوځ ورروان دی، چې د وینو سمندرونه بیا وبهوي . رسنۍ نه شته، دونیا خبریږي نه، حقیقت دا دی، چې دوزخ سر راپورته کړی دی. د تکفیر توره ځرخي او سرونه ریبي.

اور تر افغانستان ګرد راتاویږي.

د وینو، روښانه، مسلکي، متخصصو او لوستیو افغانانو وژل، وېرول، خاموشول، تبعید او کډوالۍ ته اړ ایستل په چټکۍ روان دي. مبهمي پاکستاني دولة استخباراتي مدرسي یا پوځي پولیګونونه په چټکۍ د ښوونځیو او پوهنځیو ځای نیسي. مدرسه‌یی کېدلو ته، وسلو ته، سوق‌الجیش ته، لښکر کشیو ته پیسي او وسلي پرېمانه دي، خو د ځلورلارو پر شاوخوا هغو ماسترانو او لیسانسه‌وو ته مزدورکاري نه‌شته، چې ماشومان یې له لوږې مري.

نوي استخباراتي ښکېلاک د هرې خبرې لپاره په بازاري او ګستاخانه ښکنځلمار لحن ځوابونه تیار لیکلي دي. که چا غږ پورته کړ او د ولس د وینتیا خبره یې یاده کړه، ښکنځل کیږي، تکفیریږي او ورته وایي: «راشه او مخه یې ونیسه!»

داسې زمانه ده، که چا ته دې وویل: لمنې دې اور اخیستی لړې شه، چې سوزې! دی، لکه د جهل په افیونو نشه، درته ښکنځل کوي او وایي: «ولې زور درکوې؟ نر شه! راشه او زما د لمنې اور مړ کړه!»

اهداف ښکېلاکي دي، اقتصادي دي، ستراتیژیکي او استخباراتي لوبې کیږي، خو اورلړونی یې دین و مذهب دی. قربانیان یې افغانان او د سیمې نور محروم، وږي او جنګ و جهلځپلي ولسونه دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر مذکرې انډیوالۍ راجوړ واکمن د روستنیو اموي خلفاوو په شان حرمسرایونه لري، د ښځو او پیمخیو هلکانو د لرلو مسابقه روانه ده، خو په کلیو او ښارونو کې خلک له ولږې مري.

د دمشق هغه قلندر هم نه شته، چې د وخت واکمن ته ووایي:

که زه د ولږې مستحق یم او په بیت‌المال کې څه شی نه شته، نو ته ولې سر ترپښو په سرو زرو کې ډوب یې؟ د عالم په اقصی کې د جګړو لپاره لښکر و وسلې له کومه کیږي؟ ستا د حرم سرا سلګونه مینځو او غلمانو ته وریجې و غوښې له کومه راځي؟

له کوم لوري د چنګیزي مغولو د اسونو د پښو خونړي اوازونه رادرومي، چې روستی اموي خلیفه به د بغداد په میدان کې په ټغر کې پېچلی د اسونو تر پښو لاندې هلاک کړي.

باور لرم اوس به پوښتئ، چې حلاره څه ده؟

هر یو مو په خپل ذهن و فکر کې د تکفیر او دیني استبداد دیو وژلای شئ؟

خپل ولس روښانولای او راویښولای شئ؟

د ځانژغورنې په یوه محور یې راخوځولای شئ؟

نه؟

نو بیا ولې د حلارې پوښتنه کوئ؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ